FOR IMMEDIATE RELEASE
January 29, 2012
Contact: Adisa Busuladzic
Phone: +93 (0) 702636328
Email: ABusuladzic@usaid.gov

رسنیزه خبرتیا

افغانستان د لومړي رسنیز انستیتیوت او د رسنیو د لارښود کتاب خاوند شو

کابل، افغانستان | د ۲۰۱۲ کال د جنوري ۲۹مه- د امریکا د متحده ایالتونو نړیوالې پرمختیایي اداري (USAID) په افغانستان کې د خپلواکو او فعالو رسنیو په برخه کې د خپلې دوامداره مرستې په لړ کې نن په کابل کې د نی د رسنیو انستیتیوت، چې په افغانستان کې د رسنیو لومړی انستیتیوت بلل کېږي، جوړ کړ.

د نی د اداري اجرائیوي رئیس ښاغلي عبدالمجیب خلوتگر د نوموړي انستیتیوت د پرانیستې د مراسمو پر مهال افغان او امریکایي دولتي چارواکو او د رسنیو استازو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل:"مونږ پدې ویاړو چې د رسنیو په برخه کې د یوه دوه کلن کورس له لارې، چې په هیواد کې د رسنیو په برخه کې لومړی دا ډول پروگرام گڼل کېږي، په افغانستان کې د رسنیو د سکتور د لاښه کولو او معیاري کولو د بهیر یوه برخه یو."

د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي اداري د دېموکراسۍ او حکومتوالۍ د څانگې مرستیالې ماورا بیري د خپلو خبرو پر مهال وویل:" د امریکا نړیوالې پرمختیایي اداري له ۲۰۰۲ کال راهیسې په ډېر ویاړ له آزادو رسنیو څخه ملاتړ کړیدی، ځکه مونږ پدې باور یو چې رسنۍ د افغانستان په راتلونکي کې مهم رول لوبوي."

د نی د رسنیز انستیتیوت د پرانیستې د مراسمو په ترڅ کې د افغانستان د رسنیو لارښود کتاب هم د لمړي ځل لپاره گډونوالو ته وروېژندل شو. د رسنیو دغه لارښود کتاب په افغانستان کې لومړنی دا ډول کتاب دی چې د هیواد د ټولو رسنیو په هکله پکې مرجعي معلومات راټول شویدي. پدې کتاب کې د چاپي او نشراتي رسنیو نومونه، پتې، پوښښ، د طبع او نشراتو ژبې او د دوی په هکله نور اړوند معلومات شامل دي.

د نی رسنیز انستیتیوت د افغانستان د رسنیو د سکتور او د رسنیو په برخه کې د روزنیزو کورسونو د نړیوالو کارپوهانو سره په سلا او مشوره جوړ شو څو د راډیو، تلویزیون، او انټرنیټي نشراتو په برخه کې د رسنیو کارکوونکو ته مسلکي روزنه ورکړل شي. ددې انستیتیوت کورسونه به د ۲۰۱۲ کال د مارچ په میاشت کې پیل شي.

د امریکا د نړیوالې پرمختیایي اداري د افغانستان د رسنیو د پراختیا او پیاوړتیا پروژه (AMDEP) د تخنیکي مرستې، د وسایلو د نوي کولو، د عملي روزنیزو کورسونو د جوړولو، د سوداگرۍ د پراختیا او د رسنیزو ادارو، شبکو او ټولنو د پیاوړي کولو له لارې د ځایي خپلواکو رسنیو د وړتیا د کچې د لوړولو سره مرسته کوي څو د رسنیو د مسلکي والي او معیاریتوب کچه لوړه شي.

###

د امریکا د نړیوالې پرمختیایي اداري د پروگرامونو په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره *http://afghanistan.usaid.gov* ویبپاڼې ته مراجعه وکړئ.

د امریکا ولس د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي اداري (USAID) له لارې د نړدي پنځوسو کلونو لپاره د نړۍ په کچه اقتصادي او بشري مرستې ترسره کړېدي.

USAID on Facebook | USAID on Twitter | USAID on YouTube | USAID on Flickr